


# پاکستان- د افغانستان

## رپورټ

## سرکاري مذاکرو رفتار او پرمختګ

دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره څوارلسم پورې

پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈیولپمینٹ
اینڈ ٹرانسپیرینسی




# پاکستان- د افغانستان

رپورټ

## سرکاري مذاکرو رفتار او پرمختګ

دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره څوارلسم پورې

پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمینٹ
اینڈ ٹرانسپیرینسی

پلډاټ یوه آزاده،غیر جانبداره او بې ګټې د څېړنې او روزنې خپلواکه اداره ده چې مقصد ئې پاکستان
کښې جمهوریت او جمهوري ادارې مضبوطول دي.

پلډاټ د پاکستاني مدني ټولنې د قانون XXI مادې کال اتلس سوه شپېته ترلاندې رجسټر شوې بغیر ګټې
اداره ده.


پاکستان انسټي ټیوټ آف لیجسلیټیو ډویلپمنټ اینډ ټرانسپرنسي پلډاټ کاپي رائټ لري

ټول حقونه خوندي ساتي



پاکستان کښې چاپ شوې

دسمبر دوه زره دیارلسم کښې خپور شوې

**ISBN:978-969-558-460-6**



د دې کتاب نه اخستې شوې هره برخه باید چې د پلډاټ د ښکاره حوالې سره اولیکلې یاخپور کړې شي



PILDAT

Pakistan Institute of
Legislative Development
And Transparency

د پاکستان انسټي ټیوټ آف لیجسلیټیو ډویلپمنټ اینډ ټرانسپرنسي پلډاټ
اسلام آباد دفتر: پې او بکس ۲۷۸، ایف ایټ، پوسټل کوډ: ۴۴۲۲۰، اسلام آباد، پاکستان.
لاهور دفتر: پې او بکس ۱۱۰۹۸، ایل سي سي ایچ ایس، پوسټل کوډ: ۵۴۷۹۲، لاهور، پاکستان
ایمیل: ;info@pildat.org ویبپاڼه : www.pildat.org

# مواد

اختصار او سرټکي
پیش لفظ

**پیژندګلو**

**په سرکاري کچ ملاقاتونه**: دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره ځوارلسم 13

دوه اړخیزه ملاقاتونه: دسمبر دوه دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره ځوارلسم پورې 13

I. د پاکستان اولسمشر ښاغلي ممنون حسېن د کابل سفر وکړو: اوویشتم مارچ دوه زره ځوارلسم، کابل. 13

II. د افغانستان سفیر د ښاغلي سرتاج عزیز سره ولیدل: ړومبې اپرېل دوه زره ځوارلسم، اسلام آباد 13

III. ډاکټر رنګین داد فر سپانتا د افغانستان د ملي امنیت پخواني صلاحکار د اسلام آباد سفر وکړو:شپږویشتم جون دوه زره ځوارلسم، اسلام آباد 15

IV. د افغانستان سفیرد پاکستاني وزیراعظم د خارجه چارو د صلاحکار سرتاج عزیز سره ولیدل: یوویشتم اګست دوه زره ځوارلسم 15

V. ښاغلي سرتاج عزیز د وزیراعظم د خصوصي استاذي په حېث د کابل سفر وکړ: نولسم اکتوبر دوه زره ځوارلسم ، کابل 16

VI. پوځي مشر جنرل راحیل شریف د افغان اولسمشر ښاغلي اشرف غني سره ولیدل:شپږم نومبر دوه زره ځوارلسم 17

VII. پوځي سر لښکر د افغانستان د دفاع قائم مقام وزیر ښاغلي بسم الله محمدي سره کابل کښې ولیدل: شپږم نومبر دوه زره ځوارلسم 17

VIII. پوځي سر لښکر د افغانستان د قامي سلامتۍ د صلاحکار حنیف اتمر سره کابل کښې ولیدل: شپږم نومبر دوه زره ځوارلسم 18

IX. د پاکستان د خزانې وزیر سنېټر محمد اسحاق ډار د خپل افغان هم پایه ډاکټر عمر ذاخیلوال سره ولیدل: دیارلسم نومبر دوه زره ځوارلسم ، اسلام آباد 18

X. افغان ولسمشر اشرف غني د پاکستاني ولسمشر ممنون حسېن سره ولیدل: ځوارلسم نومبر دوه زره ځوارلسم، اسلام آباد 18

XI. افغان ولسمشر د پوځي سر دفتر پنډۍ دوره وکړه: ځوارلسم نومبر دوه زره ځوارلسم 20

XII. وزیراعظم محمد نواز شریف د افغان ولسمشر اشرف غني سره ملاقات وکړو: پنځلسم نومبر دوه زره ځوارلسم، اسلام آباد 20

XIII. د پاکستان قامي اسمبلۍ کښې د افغانستان فرینډ شپ ګروپ غړو د افغانستان 21

ولسمشر ښاغلي اشرف غني سره ولیدل: پنځلسم نومبر دوه زره څوارلسم، اسلام آباد
XIV. د خاجه چارو او قامي سلامتۍ دپاره د وزیراعظم صلاحکار د افغانستان د قامي سلامتۍ صلاحکار ته ټیلیفون وکړو: شلم نومبر دوه زره څوارلسم. 20
XV. پوځي سرلښکر جنرل راحیل شریف د کابل سفر وکړو: اوولسم دسمبر دوه زره څوارلسم 20

## د پاکستان افغانستان پحواله اهم سرکاري ملاقاتونه: 22

دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره څوارلسم پورې

I. د افغانستان پاکستان دپاره د امریکا خصوصي استاذي ښاغلي جېمز اېف ډوبنز د خارجه چارو دپاره د وزیراعظم صلاحکار سره ولیدل: درېم دسمبر دوه زره څوارلسم، اسلام آباد 24
II. ښاغلي جان کیوبز (SRSG) د افغانستان دپاره دملګري ملتونو خصوصي استاذي د ښاغلي سرتاج عزیز سره ولیدل: څلیرشتمه فروري دوه زره څوارلسم، اسلام آباد 24
III. د پاکستان افغانستان د پاره د امریکا خصوصي مرستیال اساذي سید طارق فاطمي سره ولیدل:شپږویشتمه فروري دوه زره څوارلسم، اسلام آباد 25
IV د افغانستان دپاره د امریکا خصوصي استاذي جیمز اېف ډوبنزد ښاغلي سرتاج عزیز سره ولیدل: څلیرشتم اپریل دوه زره څوارلسم، اسلام آباد 26
V د افغانستان د پاره د ملګري ملتونود ستر سکتر خصوصي مرستیال استاذي د سید طارق فاطمي سره ولیدل:اوومه مئ دوه زره څوارلسم، اسلام آباد 26
VI سید طارق فاطمي د افغانستان پاکستان دپاره د امریکا خصوصي استاذي د ستر صلاحکار سره ملاقات وکړو.دري ویشتم مئ دوه زره څوارلسم، اسلام آباد 27
VII ښاغلي جېمز ډوبنز سرتاج عزیز سره الوداعي ملاقات وکړو:یوویشتمه جولائي دوه زره څوارلسم، اسلام آباد 28
VIII د افغانستان د پاره د چین خصوصي استاذي د پاکستان خارجه سېکتر سره ولیدل: شپږویشتمه جولائي دوه زره څوارلسم، اسلام آباد 28
IX د افغانستان د پاره د ملګري ملتونو د ستر سېکتر خصوصي نمائنده ښاغلي جان کیوبز د سرتاج عزیز سره ولیدل:اوویشتم اګست دوه زره څوارلسم ، اسلام آباد 29
X د افغانستان د پاره د ملګري ملتونو د ستر سېکتر خصوصي نمائنده ښاغلي جان کیوبز دخارجه چارو د سېکتر اعزاز احمد چوهدري سره ولیدل: نهه ویشتم اګست دوه زره څوارلسم ، اسلام آباد 30
XI د افغانستان پاکستان دپاره د امریکا خصوصي استاذي ښاغلي ډېن فیلډ مېن د خارجه چارو د پاره د وزیراعظم صلاحکار سرتاج عزیز سره ولیدل: اته ویشتم اکتوبر دوه زره څوارلسم، اسلام آباد 30

**درې اړخیزه غونډې**: دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره څوارلسم پورې 31

I. **د پاکستان افغانستان او ترکي درې اړخیزه غونډې**: 31
دسمبر دوه زره دیارلسم نه تردسمبر دوه زره څوارلسم پورې

– د پاکستان افغانستان او ترکیې اتمه درې اړخیزه غونډه وشوه: 31
دولسمه دیارلسمه فروري دوه زره څوارلسم، انقره، ترکي

**څلور اړخیزه غونډې**: د سمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره څوارلسم پورې 31

I. د افغانستان، ایران، پاکستان او تاجکستان د اولسمشرانو غونډه: 31
دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره څوارلسم پورې

– د افغانستان، ایران، پاکستان او تاجکستان د اولسمشرانو څلور اړخیزه غونډه: 31
اوویشتم مارچ دوه زره څوارلسم، کابل ، افغانستان درې اړخیزه مذاکرې:
دوه زره دیارلسم ، څوارلسم دسمبر

1. **درې اړخیزه مذاکره**: پاکستان ، چین افغانستان: 32
دسمبردوه زره دیارلسم ـ دسمبر دوه زره څوارلسم

– دویمه درې اړخیزه مذاکره: پاکستان،چین او افغانستان: 32
نولسم اکتوبر دوه زره څوارلسم، اسلام آباد.

**د افغانستان پحواله لندن کنفرانس: څلورم پنځم دسمبردوه زره څوارلسم، لندن، برطانیه د پاکستان افغانستان نورې غونډې**: 32

I. سنېټر افراسیاب خټک د افغان جمهور رئېس ښاغلي اشرف غني سره ولیدل: 32
پنځلسم نومبر دوه زره څوارلسم

II. د پیپلز ګوند پلاوي د افغانستان جمهور رئېس سره ولیدل: 34
پنځلسم نومبر دوه زره څوارلسم

## اختصار او لنډ ټکي

| | |
|---|---|
| ANP | عوامي نشنل ګوند |
| APTTA | د پاکستان افغانستان ترانزټ تجارتي لوظنامه |
| APTTCA | افغانستان پاکستان ترانزټ ټریډ کوارډینشن اتهارټي (د پاکستان افغانستان د ترانزټي تجارت د هم غږۍ اداره) |
| CASA-1000 | کاسا ۱۰۰۰ (مرکزي آسیا ـ سوئېلي آسیا) |
| COAS | پوځي سر لښکر |
| EU | یورپي یونین |
| FO | خارجه دفتر |
| GHQ | پوځي سر دفتر |
| ISAF | نړیوال صلح ساتونکي مرستندویه ځواکونه (ایساف) |
| JUI-F | جمیعت علما اسلام ـ فضل الرحمان ډله |
| KP | خېبر پختونخوا |
| LCA | د افغانستان پحقله لندن کنفرانس |
| MoRR | د کډوالو او دهغوي د بحالۍ وزیر |
| MoD | د دفاع وزارت |
| MoU | مفاهمتي یاداښت |
| NATO | ناټو |
| NSA | د قامي سلامتۍ صلاحکار |
| PAJCCI | د پاکستان افغانستان د تجارت شریک چېمبر |
| PCI | پاک چائېنه انسټي ټیوټ |
| PPPP | پاکستان پیپلز پارټي پارلیمنټېرئن |
| QWP | قومي وطن پارټي |

| | |
|---|---|
| SAFRON | د پولو او سرحداتو وزارت |
| SAPM | د وزیراعظم خصوصي مرستیال |
| SPA | د ستراتجیکي مرستو لوظنامه |
| SRAP | د افغانستان پاکستان دپاره خصوصي استاذې |
| SRSG | د ملګري ملتونو د ستر سېکتر خصوصي استاذې |
| SSAR | د افغان کډوالو د واپسۍ دپاره کړنلاره |
| TAPI | تاپي (ترکمانستان، افغانستان ، پاکستان او هندوستان ګېس نل لیکه) |
| TASA | ټکنیکل اېډوائزري سروس اېګریمنټ (د تکنیکي مرستو لوظنامه) |
| UNHCR | د کډوالو دپاره د ملګري ملتونو اداره |

## تمهید

**د پاکستان افغانستان مذاکرو د پرمختک او رفتار رپورټ** هغه مهم څیزونه او پرمختګونه په ګوته کوي په کومو چې د دسمبر دوه زره دیارلسم نه تردسمبر دوه زره څوارلسم پورې په سرکاري کچ عملدارمد شوېدې

دا **رپورټ د پاکستان افغانستان د پارلیماني غړو د دولسمي** مذاکرې دپاره تیار کړې شوېدې کومه چې د پلډاټ په مرسته په **دیرشم او یو دیرشم دسمبر دوه زره څوارلسم** کال اسلام آباد،پاکستان کښې ټاکل شوېده، تابیا شي.

دې رپورټ کښې د دسمبردوه زره دیارلسم او دسمبر دوه زره څوارلسم ترمنځه په سرکاري مذاکرو د شوي پرمختګ او رفتار په خصوصیاتو رڼا اچول شوېده. پلډاټ وخت په وخت دا قسمه رپورټ تیاروي چې مقصد ئې د دوانړو غاړو پارلیماني ډلو ته د پارلیماني سفارتکارۍ ترلاندې د پاکستان افغانستان د تعلقاتو ښه کولو لړ کښې وخت په وخت د شوې غونډو شامنظر وړاندې کول دي

## اعتراف

دې رپورټ کښې استعمال شوي مواد د پاکستان افغانستان د خارجه وزارتونو د سرکاري وېب پاڼو نه اغستې شویدي.

پلډاټ غواړي چې د برطانوي هائي کمشن هم مننه وکړي چې د دې پیپر چهاپ کولو کښې ئې ورسره مرسته کړېده

## لاتعلقي

د پلډاټ ډلې ددې رپورټ د موادو په سم ډول تیارولو دپاره پوره پوره کوشش کړېدې. که بیا هم دې کښې څه غلطي یا کمې بېشي وي هغه به له قصده نه وي.

اسلام آباد
دسمبر دوه زره څوارلسم

## پېژندګلو

د دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دي دمه د پاکستان افغانستان ترمنځه په سرکاري کچ یو شمیر غونډې شویدي چې پکښې درې د پاکستاني وزیراعظم محترم نواز شریف او د افغانستان د پخواني اولسمشر حامد کرزئ ترمنځه په اسلام آباد، لندن او کابل کښې شوې غونډې هم شاملې دي. افغانستان کښې د نوې صدارتي ټولټاکنو اوپه یو کم دیرشم ستمبر دوه زره څوارلسم کال محترم اشرف غني ولسمشر جوړېدو سره بعضې اهم پرمختګونه شویدي.

په یو شمېر موقعو دوانړو ملکونو د افغانستان امن او استحکام دپاره د مزاکراتو ژمنه کړې او د سیمه ایز امن دپاره هم دوانړو د خپلې خواه د مرستې آواز پورته کړې. پاکستان ته د نومبر په پنځلسمه نېټه دوه زره څوارلسم خپل ړومبي سفر کښې افغان ولسمشر اشرف غني د ترهه ګرۍ خلاف جنګ کښې د پاکستان کردار او پاکستاني قوم قربانۍ وستائلې. د ده وېنا وه:

"افغانستان پاکستان سره په سېکورټۍ او دفاعي څانګو کښې تعلقات ښه کول او د روزنو او پولو انتظام لړ کښې مرستې هم زیاتول غواړي."

د پاکستان خارجه دفتر وخت په وخت خپله اونیزه خبري غونډه کښې د افغانستان مفاهمتي عمل، امن او استحکام لړ کښې د پاکستاني حکومت د مرستې بیابیا تکرار کوي.

د خارجه چارو او قامي سلامتۍ دپاره د پاکستاني وزیراعظم صلاحکار سرتاج عزیز دوه زره څوارلسم کښې د پاکستان افغانستان د تعلقاتو ښه کېدو په اړه وئېلي وو:

"پاکستان افغانستان سره ښې سیاسي، اقتصادي او سکیورټۍ اړیکې غواړي.د افغانستان جمهوررئېس پاکستان ته تازه سفر د توقعاتو نه زیات کامیاب او ګټور وو.دوانړه هیوادونه د پولې په شان سېکورټۍ په کړنلاره صلاح شوي.د پاکستان افغانستان ترمنځه د تعلقاتو نوې لړۍ پېل شوېده".

د افغان ولسمشر د پاکستان د سفر په وخت د پاکستاني وزیراعظم محمد نواز شریف وېنا وه چې یو پرامنه او باثباته افغانستان د پاکستان د او ټولې منطقې په ګټه دې.افغان ولسمشر سره په ګډه د خبري غونډې دوران د پاکستاني وزیراعظم محمد نواز شریف وینا وه

"د پاکستان افغانستان ترمنځه تعلقات خاص دي.زمونږ لرغونې اړیکې د مذهب، رشتو او شریک تاریخ په تار تړلي دي.زمونږ غم او خوشحالۍ شریکې دي.زمونږ امنیت او استحکام د یو بل سره تړلي دي.ما هر وخت افغانستان سره د یو ښه ګاونډګیرۍ جوړولوپه اهیمت ټینګار کړې.د دوانړو قامونو د خوشحالۍ او امن او د سیمې استحکام دپاره د پاکستان او افغانستان ترمنځه کوټلې او پخې اړیکې ډېرې ضروري دي".

تېرو وختونو کښې دوانړه ملکونه په یو بل د راکټي بریدونو او توپخانو د ګولو داغلو تورونه لګوي پاکستان تور لګوي چې افغانستان پاکستاني طالبانو له ځائې ورکړې او له هغه ځایه په پاکستان حملې کېږي افغانستان وایي پاکستان غواړي طالبان په واک کښې برخه ایز جوړ کړي چې دا شان افغانستان کښې خپل خلق راولي.خو بیا هم د ستمبر دوه زره څوارلسم نه چې اشرف

غني د افغانستان د صدر چوکۍ ترلاسه کړې د دوانړو ملکونو ترمنځه د پولو د انتظام، دوه اړخیزه سېکورټۍ، تجارت او اقتصاد لړ کښې مرستو کښې اهم پرمختګ په نظر راغلې دې.

ددې ریپورټ ړومبۍ برخه د دوه زره دیارلسم او دوه زره څوارلسم کال ترمنځه د دوه اړخیزه تعلقاتو د پرمختګ او رفتار په اړه ده.

دویمه برخه کښې د دوانړو ملکونو د حکومتي چارواکو ترمنځه د شوي ملاقاتو مهم ټکي راغونډ کړې شویدي.

دریمه برخه د دوانړو ملکونو سرکاري چارواکو ترمنځه شوې ملاقاتونو اهمې ګټې په ګوته کوي.

څلورمه برخه کښې د درې اړخیزه، څلور اړخیزه غونډو او دا اوس اوس لند ن کښې د افغانستان په اړه شوي کنفرانس احوال دې.

پنځه برخه کښې د دوانړو ملکونو ترمنځه د غېر سرکاري غونډو احوال دي.

## د پاکستان افغانستان دسرکاري چارواکو ترمنځه شوې مذاکرو رفتار او پرمختګ

## دوه اړخیزه ملاقاتونه: دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره څوارلسم پورې

## د پاکستان ولسمشر ښاغلي ممنون حسېن جشن نوروز کښې ګډون دپاره د کابل، افغانستان سفروکړو: اوویشتم مارچ دوه زره څوارلسم

د پاکستان ولسمشر ښاغلي ممنون حسېن د افغان ولسمشر حامد کرزئی په بلنه جشن نوروز کښې ګډون دپاره په اوویشتم مارچ دوه زره څوارلسم کال د کابل، افغانستان سفروکړو. ولسمشر سره دغه سفر کښې د خبریتا اوخپرونو او قامي ورثې وفاقي وزیراو نور جګ پوړي چارواکي تلي وو.کابل ته په رسېدو ولسمشر ته ښاغلي یونس قانوني چې د افغانستان ړومبې مرستیال اولسمشر دې، خارجه وزیر او نورو چارواکو تود هرکلي اووے. روستو دوانړو ولسمشرانو خپلو کښې ولیدهٔ، دغه دوران د دوه اړخیزه زړه خوښې، شرېکو ګټو، دوه اړخیزه او سیمه ایز تعلقاتو او اسلامي نړۍ سره تعلقاتو او مرستو ته د ودې ورکولو په چارو خبرې اوشوې.

اولسمشر د افغانستان راتلونکي صدارتي ټاکنو د کامیابۍ لړ کښې د نېکو خواهشاتو څرګندونه وکړه او د افغانستان مفاهمتي عمل کښې ئې د پاکستان د کردار ګردان وکړو.دوانړو اولسمشرانو د دې خبرې سره اتفاق وکړو چې ترهه ګري او بنسټ پالي زمونږ شریک دښمن دې او ددې خاتمې دپاره به په شریکه هلې ځلې کول وي.

**ړومبۍ نقشه: د پاکستان افغانستان د ملاقاتونو فهرست (دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره څوارلسم پورې)**

| شمیره | ملاقات | نېټه | ښار، ملک |
|---|---|---|---|
| I | د پاکستان ولسمشر ښاغلي ممنون حسېن جشن نوروز کښې ګډون دپاره د کابل، افغانستان سفروکړو | اوویشتم مارچ دوه زره څوارلسم | کابل ، افغانستان |
| II. | د پاکستان دپاره د افغانستان نوي سفیر ښاغلي جانان موسه زیي د قامي سلامتۍ او خارجه چارو د وزیراعظم د صلاحکار سره ولیدل | ړومبي اپرېل، دوه زره څوارلسم | اسلام آباد، پاکستان |
| III. | د افغانستان د ملي امنیت پخواني | شپږویشتم جون ، دوه | اسلام آباد، |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | صلاحکار رنګین دادفر سپانتا د قامي سلامتۍ او خارجه چارو د پاره د پاکستاني وزیراعظم د صلاحکار سرتاج عزیز سره ولیدل | زره څوارلسم | پاکستان |
| .IV | د افغانستان سفیر د قامي سلامتۍ او خارجه چارو د وزیراعظم د صلاحکار سره ولیدل | څلیرشتم اګست دوه زره څوارلسم | اسلام آباد، پاکستان |
| .V | د افغانستان لخوا په سرکاري بلنه د پاکستان اولسمشرممنون حسېن د افغان ولسمشر د سوګند پورته کولو دستوره کښې ګډون دپاره د کابل سفر وکړو | یو کم دیرشم ستمبر دوه زره څوارلسم | کابل ، افغانستان |
| .VI | د قامي سلامتۍ او خارجه چارو دپاره د وزیراعظم صلاحکار ښاغلي سرتاج عزیر د وزیراعظم د خصوصي استاذي په حېث د کابل سفر وکړو | نولسم اکتوبر دوه زره څوارلسم | کابل ، افغانستان |
| .VII | پوځي سرلښکر جنرل راحیل شریف د افغان ولسمشر سره ولیدل | شپږم نومبر دوه زره څوارلسم | کابل، افغانستان |
| .VII | پوځي سرلښکر د افغانستان د دفاع قائم مقام وزیر بسم الله محمدي سره ولیدل | شپږم نومبر دوه زره څوارلسم | کابل، افغانستان |
| .IX | پوځي سرلښکر د افغانستان د ملي امنیت صلاحکارحنیف اتمر سره ولیدل | شپږم نومبر دوه زره څوارلسم | کابل، افغانستان |
| .X | د خزانې وزیر اسحاق ډار د افغان سیال ډاکټر عمر ذاخیلوال سره ملاقات وکړو | دیارلسم نومبر دوه زره څوارلسم | اسلام آباد، پاکستان |
| .XI | افغان ولسمشر اشرف غني د پاکستاني ولسمشر ممنون حسېن سره ولیدل | څوارلسم نومبر دوه زره څوارلسم | اسلام آباد ، پاکستان |
| XII . | افغان ولسمشر د پاکستاني پوځي سر دفتر دوره وکړه | څوارلسم نومبر دوه زره څوارلسم | اسلام آباد ، پنډۍ پاکستان |
| XIII | افغان ولسمشر اشرف د پاکستان وزیراعظم محمد نواز شریف سره ولیدل | پنځلسم نومبر دوه زره څوارلسم | اسلام آباد ، پاکستان |
| XIV | د پاکستان قامي اسمبلۍ کښې د پارلیماني فرېند شپ ډلې افغان ولسمشر اشرف غني سره ولیدل | پنځلسم نومبر دوه زره څوارلسم | اسلام آباد ، پاکستان |
| XV | د قامي سلامتۍ او خارجه چارو د پاره د پاکستاني وزیراعظم صلاحکار سرتاج | شلم نومبر دوه زره څوارلسم | اسلام آباد \ کابل |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | عزیز د افغانستان د ملي امنیت صلاحکار حنیف اتمر سره په ټیلیفون خبرې اوکړې | | |
| XVI | جنرل راحیل شریف د کابل دوره اوکړه | اوولسم دسمبر دوه زره څوارلسم | کابل ، افغانستان |

**قامي سلامتئ او خارجه چارو دپاره د وزیراعظم د صلاحکار سره د افغانستان د سفیر ملاقات: ړومبې اپرېل دوه زره څوارلسم**

د پاکستان دپاره د افغانستان نوي سفیر ښاغلي جانان موسه زئي د پاکستان خارجه دفتر کښې د وزیراعظم د صلاحکار سرتاج عزیز سره د اپریل په ړومبۍ نېټه دوه زره څوارلسم کال ولیدل. د هر کلي په وخت خارجه مشیر نوموړي ته پاکستان کښې د خپل سفارتي کار په وخت د وزارت لخوا دهر قسمه مرسته باور ورکړو.افغان سفیر په تود هرکلي کولو د پاکستان مننه اوکړه.دې دوران د دوه اړخیزه تعلقاتو په موجوده حالت خبرې وشوې او ورسره ورسره د دې تعلقاتو نور پیاوړي کولو او د شریکو ګټو لاس ته راوړنو لړ کې په مختلفو چارو غور هم اوشو. د ملاقات په وخت په دې ټینګار وشو چې خپل منځي اعتماد زیاتولو دپاره د اولسونو ترمنځه رابطې او په سرکاري کچ تلې راغلې ډېر ضروري دې. خارجه مشیر د افغانستان امن او مصالحتي عمل کښې د پاکستان د کردار او مرستې ګردان وکړو.ده راتلونکې ورځو کښې افغانستان کښې د کېدونکې صدارتي ټاکنو او انتقال اقدار لړ کښې د نېکو خواهشاتو څرګندوه وکړه.

**ډاکټر رنګین داد فر سپانتا، د افغانستان د ملي امنیت پخواني صلاحکار د پاکستان سفر کښې د خارجه چارو او قامي سلامتئ دپاره د وزیراعظم د صلاحکار سرتاج عزیز سره ولیدل: شپږویشتم جون دوه زره څوارلسم**

د افغانستان د ملي امنیت دپاره پخواني صلاحکار ډاکټر رنګین داد فر سپانتا د جون په شپږویشمه دوه زره څوارلسم کال کښې د پاکستان سفر وکړو.ده سره د افغانستان د خارجه وزارت،دفاع، د سېکورټئ د قامي ډایرېکټورېټ او افغان ملي امنیت کونسل جګ پوړي چارواکي هم وو. ډاکټر سپانتا د وزیراعظم سره ولیدل او هغه ته ئې د اولسمشر حامد کرزئ خط ورکړو. وزیراعظم د اولسمشر د خط او ډاکټر سپانتا پاکستان ته راتګ باندې هر کلي ووئېل.د دوانړو غاړو وینا وه چې باید ټولو څانګو کښې د ګټورو او نتیجه خیزمذاکراتو دپاره پاکستان افغانستان له خپل منځي تعلقاتو ته نوره وده ورکول پکار دي.ډاکټر سپانتا د پاکستاني خاجه مشېر سره د ډلو په کچ مذاکراتو کښې ګډون هم وکړو. ده د پاکستاني پوځ دمشر سره هم ولیدل. د خبرو اترو مهمه موضوع دوه اړخیزه سېکورټي مرستې

## د پاکستان افغانستان سرکاري مذاکرو رفتار او پرمختګ

دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره څوارلسم پورې

زیاتول وو. دوانړه ډلې په دې متفق وې چې د ترهه ګرو په ضد بغیر د څه تفریقه کاروائي پکار ده او په خپله خپله خاوره د دوي پټنځایونه ختمول ضروري دي.

### د افغانستان سفیر ښاغلي جانان موسه زئي د خارجه چارو او قامي سلامتۍ دپاره د وزیراعظم د صلاحکار سره ولیدل:یوویشتم اګست دوه زره څوارلسم

د خارجه چارو او قامي سلامتۍ دپاره د وزیراعظم د صلاحکار سرتاج عزیز په یوویشتم اګست دوه زره څوارلسم د ملاقات دوران د افغانستان سفیر جانان موسه زئي ته ووئېل چې یو مستحکم، پرامنه او متحد افغانستان د پاکستان په مفادو کې دې.

د افغانستان جګ پوړو چارواکواو ادارو لخوا وخت په وخت د پاکستان په ضد د وسله والو د حملو ، ترهه ګرۍ د پېښو او د پولې دې غاړې نه د ګوله بارۍ د تورونو په اړه د سرتاج عزیز وینا وه باید افغانستان د دې نه ډډه وکړي او که دغه لړ کښې څه قسمه ثبوتونه لري نو پکارده چې هغه پاکستان سره شریک کړي. دنوموړي وینا وه چې پاکستان غواړي افغانستان سره د برابرۍ او د خپلواکۍ په بنیاد دوستانه ګاونډي اړیکي ولري. د ده په خبره پاکستان به په شریکو اندېښنو د بحث سلسله جاري ساتي چې نتیجه کښې ئې د دوانړو ملکونو په یو بل اعتماد سېوا شي. د دې مقصد دپاره ضروري ده چې دوانړه ملکونو د پولو د انتظام کړنلاره عملي کړي نو ورسره به د دوانړو ملکونو ترمنځه سېکورټي چارو کښې مرستو د پولو په ښه شان انتظام او قابو کولو کښې ګټه ترلاسه شي.

### د پاکستان اولسمشر ممنون حسېن د افغانستان ولسمشر د سوګند پورته کولو دستوره کښې ګډون دپاره کابل ته لاړ: یوکم دیرشم ستمبر دوه زره څوارلسم

د پاکستان اولسمشر ممنون حسېن د ستمبر په یو کم دېرشمه نېټه دوه زره څوارلسم کال د کابل یو ورځنې سفر وکړو چرته چې نوموړي د نوي ټاکل شوي افغان ولسمشر اشرف غني احمدزئ د سوګند پورته کولو په دستوره کښې ګډون وکړو. دستوره کښې د سیمې او ټولې نړۍ نه مشرانو، وزیرانو او استاذو لوئې شمېر کښې ګډون لرلو. کابل کښې د خپلې اېسارتیا دوران ولسمشر د افغانستان هم پایه سره ملاقات اوکړو. نوي ټاکل شوي افغان چیف اېګزېکټیو عبدالله عبدالله هم د ولسمشر مشر ممنون حسین سره ځانله ملاقات وکړو. د ملاقاتونو په وخت افغانستان کښې د انتقال اقتدار، پاکستان افغانستان په تعلقاتو او سیمه ایزو مرستو په ګډون په یو شمېر چارو خبرې اوشوې. ولسمشر ممنون حسېن د یو جمهوري صدر نه بل ته په پرامنه طریقه اقتدار منتقل کېدو باندې دخپلې خواه، حکومت له خواه او د پاکستاني اولس لخوا افغان حکومت ته امبارکي ورکړه.

ولسمشر نوي افغان حکومت ته د خپلې خواه هرقسمه مرستې باور ورکړوکوم چې خپله اېجنډه کښې ډېر څېزونه لري او د شریکو ګټو ترلاسه کولو دپاره ئې افغان حکومت

سره په شریکه د کار کولو دعزم ګردان وکړو.

**د خارجه چارو او قامي سلامتی دپاره د وزیراعظم صلاحکار سرتاج د خصوصي استاذي په حېث د کابل سفر وکړو: نولسم اکتوبر دوه زره څوارلسم**

د خارجه چارو او قامي سلامتی دپاره وزیراعظم صلاحکار سرتاج عزیز د اکتوبر په نولسمه نېټه دوه زره څوارلسم کال د وزیراعظم د خصوصي استاذي په حېث د کابل یو ورځنې سفر وکړو. ده د افغانستان ولسمشر اشرف غني احمدزئ ته د پاکستان دسفر لړ کښې د وزیراعظم باضابطه بلنه ورکړه. افغان ولسمشر د وزیراعظم مننه وکړه او وے وئېل هغه به ډېر زر د پاکستان سفر کوي.
د افغان صدر وینا وه چې اوس وخت راغلې د پاکستان افغانستان لرغونې اړیکې دوه اړخیزه مرستو او ګټو کښې بدلې کړې شي. د ده په خبره دې به وزیراعظم نواز شریف سره دوه اړخیزه تعلقات ښه کولو دپاره پنځه کلنه ځار شریکوي. د ولسمشر وینا وه چې دوانړو ملکونو له په ترجیحي بنیادونو بعضې څیزونو باندې کار پکار دې چې پکښې سیاسي، سېکورټي او دفاعي مرستې، تجارتي او اقتصادي تعلقات، په کاروباري کچ رابطې او د دوانړو ملکونو د ولسونو ترمنځه رابطې زیاتول شامل دي.

**د پاکستاني پوځ مشر جنرل راحیل شریف سره د افغان ولسمشر اشرف غني ملاقات: شپږم نومبر دوه زره څوارلسم کال**

د پاکستاني پوځ مشر جنرل راحیل شریف د افغان ولسمشر ښاغلي اشرف غني سره د نومبر په شپږمه دوه زره څوارلسم کال ملاقات وکړو. ده افغان ولسمشر ته په چوکۍ سمبالولو امبارکي ورکړه او هیله ئي څرګنده کړه افغانستان کښې شوې ټاکنې به د دانړو ملکونوتعلقات ښه کولو او د یو بل دپاره ګټه ور جوړولو لړ کښې تاریخي کردار ولوبوي. ده زیاته کړه یو پرامنه او باثباته افغانستان د پاکستان په ګټو دې او د سیمې سلامتۍ او اقتصادي ترقۍ دپاره ضروري ده چې د ترهه ګرۍ په شریکه سره مقابله وکړې شي.

**د پاکستاني پوځ مشر جنرل راحیل شریف د افغانستان د دفاع قائم مقام وزیر بسم الله محمدي سره ولیدل: شپږم نومبر دوه زره څوارلسم**

د پاکستاني پوځ مشر جنرل راحیل شریف د کابل سفر دوران د افغانستان د دفاع قائم مقام وزیر بسم الله محمدي سره ولیدل. د دفاع وزارت وائي پوځي سر لښکر افغان ځواکنو ته پاکستان کښې د روزنې ورکولو وړاندیز وکړو. د دفاع وزارت لخوا جاري شوي یو بیان کښې وئېلي شویدي جنرل راحیل شریف د هغه عزم تکرار وکړو پاکستان افغانستان سره په پوځي ، سیاسي او اقتصادي چارو کښې مرستې ته تیار دې.
د ملاقات دوران د ایساف او امریکائي عسکرو د وتو روستو د سېکورټۍ زمه وارۍ افغان ځواکونو ته حواله کولو ، د پولو په ښه شان انتظام کړنلارې، استخباراتو په

تبادله او ددې په شفافیت او په دوه اړخیزه مرستو زیاتولو خصوصي غور اوشو.دې دوران د دواړوملکونو ترمنځه پوځي تعلقاتو ښه کولو په چارو هم خبرې اوشوې.

د جنرل راحیل شریف وینا وه پاکستان افغانستان سره د ډیورنډ په کرښه سېکورټۍ ښه کولو کښې مرستو ته هم چمتو دې او زیاته ئې کړه د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته کوټلي حفاظتي انتظامات نه یواځې د پاکستان افغانستان بلکه ټولې منطقې په ګټه دي. د افغانستان د دفاع وزیر وېنا وه هیله ده د ترهه ګرۍ په ضد شریکو هلو ځلو لړ کښې به کابل او اسلام آباد ډېر زر ښه منطقي نتیجې ته ورسي چې ورسره به پاکستان او افغانستان ځواکونه د دې جوګه شي چې د ترهه ګرۍ په ضد کوټلي عملیات وکړي.

## پوځي مشر د افغانستان د ملي امنیت د صلاحکار حنیف اتمر سره کابل، افغانستان کښې ولیدل: شپږم نومبر دوه زره څوارلسم

د افغانستان دملي امنیت دپاره د ولسمشر صلاحکار ښاغلي حنیف اتمر او د پاکستاني پوځ د مشر جنرل راحیل شریف ترمنځه په شپږم نومبر دوه زره څوارلسم کابل کښې ملاقات وشو. دملاقات په وخت جنرل راحیل شریف افغانستان کښې د نوي شریک حکومت د جوړښت پحقله ووئېل دابه د افغانستان د استحکام د پاره یو مثبت ګام وګرځي. دغه دوران په دوه اړخیزه تعلقاتو ښه کولو، د سیمه ایزې سلامتۍ ، ترهه ګرۍ په ضد مبارزې او د خپل منځي ګټو په چارو خبرې وشوې. د ښاغلي حنیف اتمر وینا وه د افغانستان نوې حکومت د کابل او اسلام آباد ترمنځه دخبرو اترو په تسلسل باور لرې.

دغه مهال جنرل راحیل شریف د ترهه ګرۍ خلاف په شریکو هلو ځلو او د سیمه ایز امن دپاره په مشترکه کوششونو ټینګار وکړو.

## د خزانې وزیر محمد اسحاق ډار د افغان هم پایه عمر ذاخیلوال سره ولیدل: دیارلسم نومبر دوه زره څوارلسم

د خزانې وزیر محمد اسحاق ډار اسلام آباد کښې د نومبر په دیارلسمه نېټه دوه زره څوارلسم د افغانستان د خزانې وزیر عمر ذاخېلوال سره ولیدل.دواړو وزیرانو د دې خبرې سره اتفاق وکړو چې راتلونکي دوه درې کالو کښې دوه اړخیزه تجارت د دوه نیم اربه ډالرو نه په زیاتولو پنځه اربه ډالرو ته رسولو دپاره کوټلي اقدامات پکار دې د کوم څرګندونه چې د دواړو ملکونو مشرانو هم کړېده. ښاغلي ډار عمر ذاخیلوال سره دخزانې وزارت کښې ملاقات وکړو چې پکښې د پاکستان افغانستان د تعلقاتو سره سره د اقتصادي مرستو زیاتولو دپاره په لارو چارو لټولو خصوصي غور وشو.پاکستاني وزیر ډاکټر ذاخیلوال ته هر کلي اووے او افغانستان کښې په پرامنه انتقال اقتدار ئې ورته امبارکي ورکړه.

## ولسمشر اشرف غني د ولسمشر ممنون حسېن سره ولیدل: څوارلسم نومبر دوه زره څوارلسم

د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني د نومبر په څوارلسمه نېټه دوه زره څوارلسم کال اسلام آباد کښې د پاکستاني اولسمشر

سره ولیدل. دملاقات په وخت د پاکستان افغانستان په تعلقاتو او سیمه ایزو مرستو خبرې اوشوې.ولسمشر ممنون حسېن د پاکستاني حکومت او اولس لخوا افغان اولسمشر او د هغه ډلې ته تود هرکلې اووې.

د ده وینا وه چې دپاکستان خلقو افغانستان کښې پرامنه انتقال اقتدار لېدل غوښتل او زیاته ئې کړه افغان اولس به د امن او ترقۍ مرام ته ضرور رسي. پاکستاني ولسمشر د هغه عزم ګردان وکړو چې افغانستان سره پراخه او ښې اړیکې غواړي. ولسمشر ووئېل د سېکورټي مرستو سره سره به اقتصادي څانګه کښې مرستې هم ګټورې نتیجې راوړي. نوموړي د افغان اولس په خوښه د افغانستان مفاهمتي عمل کښې د پاکستان د کردار او مرستویادونه وکړه

## افغان ولسمشر د پوځي سردفتر پنډۍ دوره وکړه: څوارلسم نومبر دوه زره څوارلسم

افغان ولسمشر ښاغلي اشرف غني په څوارلسم نومبر دوه زره څوارلسم د پوځي سر دفتر پنډۍ دوره وکړه.د نورو وزیرانو ترڅنګ د اولسمشر سره د افغانستان د دفاع وزیر جنرل بسم الله محمدي د افغانستان چیف آف جنرل سټاف جنرل شېرمحمد کریمي او د افغانستان سېکورټي چارواکي هم وو.

پوځي سردفتر ته په رارسېدو جنرل راحیل شریف افغان ولسمشر ته هرکلي اووے. د پاکستان پوځ یوې دستې راغلي مېلمنو ته ګارډ آف آنر یا سلامي وړاندې کړه. افغان ولسمشر د شهیدانو په یادګار ګلونه کېښودل او فاتحه ئې ولوستله. روستو افغان پلاوي ته د پاکستان افغانستان پولې امنیت په اړه تفصیلي خبروَنه ورکړې شوه. دې دوران د قامي سلامتۍ مشیر سرتاج عزیز، خارجه سېکتر اعزاز احمد چوهدري، د دفاع سېکتر لفټننټ جنرل (متقاعد) عالم خټک او د استخباراتي ادارې آئي اېس آئي مشر لفټننټ جنرل رضوان اختر هم موجود وو.

افغان ولسمشر د ترهه ګرۍ خلاف د پاکستان کردار او دې لړ کښې د پاکستاني قوم لخوا ورکړې شوې قرباني وستائلې.د ده وېنا وه افغانستان غواړي پاکستان سره د دفاع اوسېکورټۍ په ګډون د پولو د انتظام او روزنې په چارو کښې تعلقاتو ته وده ورکړي. نوموړي د ترهه ګرۍ لعنت ختمولو دپاره پاکستان سره په شریکه هلو ځلو کولو باور هم ورکړو.

## افغان ولسمشر اشرف غني د پاکستاني وزیراعظم نواز شریف سره ملاقات: پنځلسم نومبر دوه زره څوارلسم

پاکستان افغانستان ژمنه وکړه چې دوه اړخیزه اړیکې به ښه کوي ، سېکورټي او سیاسي څانګو کښې به یو بل سره جخټې مرستې کوي او د اقتصادي تعلقاتو یو مضبوط بنیاد به ږدي. دا ژمه د پاکستاني وزیراعظم محمد نواز شریف او افغان ولسمشر محمد اشرف غني ترمنځه د ملاقات په وخت وشوه کله چې دوي په پنځلسم نومبر دوه زره څوارلسم اسلام آباد کښې ولیدل.
وزیراعظم هاوس ته د رارسېدو روستو اول د دوانړو مشرانو یو په یو او بیا د ډلو په کچ ناسته وشوه.

ملاقات کښې د پاکستان افغانستان په تعلقاتو،سیمه ایز صورتحال، او اقتصادي څانګه کښې په مرستو تفصیلي خبرې اوشوې.
د وزیراعظم نواز شریف وینا وه چې پرامن، مستحکم متحد او پرمخ تللې افغانستان د پاکستان په مفادو کښې دې. نوموړي د دوانړو ملکونو ترمنځه دمضبوطو، کوټلې او پائېدارو تعلقاتو لړ کښې خپل څار په ډاګه کړو.
وزیراعظم د پاکستان لخوا د سیاسي، اقتصادي ، سېکورټي، او اولسونو ترمنځه رابطو زیاتولو په اهمیت رڼا واچوله. د ترهه ګرۍ په ضد د پاکستان د عزم په ګردان د نواز شریف وینا وه د ضرب عضب پوځي عملیاتو ګټورې نتیجې رامخې ته شوي. د ده وینا وه د شریک دښمن په ضد ګټې دپاره ضروري ده چې په ګډه سره د هغه خلاف مبارزه وشي. وزیراعظم د افغانستان امن او

سلامتۍ لړ کښې د پاکستان د کردار ګردان هم وکړو.

## د پاکستان قامي اسمبلۍ کښې د افغانستان فرینډ شپ ګروپ غړو د افغان ولسمشر ښاغلي اشرف غني سره ولیدل: پنځلسم نومبر دوه زره څوارلسم

د افغانستان اولسمشر عزت مآب ډاکټر اشرف غني د پاکستان څوارلسمي قامي اسمبلۍ کښې د پاکستان افغانستان فرینډ شپ ګروپ سره تعارفي ملاقات وکړو.د ناستي شریکه مشري قامي اسمبلۍ کښې مرستیال سپیکر ښاغلي مرتضا جاوید عباسي او آفتاب احمد خان شېرپاو څوک چې د پاکستان افغانستان فرینډ شپ ګروپ کنوینئر دې، وکړه.ناسته د افغان ولسمشر سره راغلي میلمنه هم موجود وو.

خپلو خبرو کښې آفتاب احمد خان شېرپاؤ د پارلیماني فرینډ شپ ګروپ لاس ته راوړني په ګوته کړې. تېره لړه موده کښې د مذاکرو یوولس ادوار ډېر ګټور ثابت شوي؛ او شریک قراردادونه ئې ورکړي کوم چې د دواړو حکومتونو مخې ته اېښودې شویدي.

افغان اولسمشر اشرف غني د افغانستان اولس لخوا د فرینډ شپ ګروپ په کار او

## دخارجه چارو او قامي سلامتۍ دپاره د پاکستاني وزیراعظم صلاحکار سرتاج عزیز د افغانستان د ملي امنیت صلاحکار ښاغلي حنیف اتمر سره په

زیار د دوي مننه وکړه. د ده وینا وه د ګروپ غړو کابل راتګ ته سترګې په لار یؤ. د ده په خبره دا قسمه تلي راغلي د سیمې ښه والي او ښه اړیکو دپاره ډېر ضروري دي.د نوموړي وېنا وه دا د دواړو غاړو د عوامي نمائندګانو ذمه واري جوړېږي چې د اعتماد سازۍ او اولسي رابطو زیاتولو لړ کښې خپل کردار ترسره کړي. ده زیاته کړه افغانستان کښې امن او سلامتي د پاکستان په ګټو ده.

دا غونډه د پاکستان افغانستان فرینډ شپ ګروپ او پاکستان انسټي ټیوټ آف لېجسلېټیو ډویلپمنټ اېنډ ټرانسپرنسي ، پلډاټ (www.pildat.org) په شریکه سره تابیا کړې وه.

## ټیلیفون خبرې اوکړې: شلم نومبر دوه زره څوارلسم

د خارجه چارو او قامي سلامتي دپاره د پاکستاني وزیراعظم صلاحکار سرتاج عزیز په شلم نومبر دوه زره څوارلسم د افغانستان د ملي سلامتۍ د صلاحکار حنیف اتمر سره په ټیلیفون خبرې وکړې. د ده وینا وه چې په اوولسم نومبر د بي بي سي اردو پروګرام کښې زما خبر په غلط رنګ وړاندې کړې شوي وو، ځکه چې دغه خبره ده په تاریخي تناظر کښې کړې وه. نوموړي زیاته کړه دترهه ګرۍ او بنسټ پالۍ په ضد د پاکستان عزم او کردار ډېر واضحه او ښکاره دې، او لکه څنګه چې ئې ما د بي بي سي مرکه کښې هم وئیلي وو ضرب عضب آپرشن کښې د ټولو ترهه ګرو په ضد یو شان کاروائي کولي شي. ده د پاکستاني وزیراعظم نواز شریف او افغان ولسمشر اشرف غني ترمنځه شوې هغه موافقه هم رایاده کړه چې خپله خاوره به د بل ملک په ضد استعمال ته نه پرېږدي.خارجه مشیر د پاکستان هغه عزم هم

ګردان کړو چې د مشترکه دښمن او یو شان ننګونو په ضد به په ګډه سره کوټلې اقدامات پکار وي چې داشان د ملګرتیا او ترقی مرام ته ورسېدې شي او په دې خبره د دوانړو ملکونو مشرانو هم اتفاق کړېدې.

## پوځي سرلښکر د کابل سفر وکړو: اوولسم دسمبر دوه زره څوارلسم

د پاکستاني پوځ مشر جنرل راحیل شریف په اوولسم دسمبر دوه زره څوارلسم د کابل سفر وکړو اوهلته ئې د افغان اولسمشر اشرف غني او د ایساف کمانډر جنرل جان ایف کېمبل سره ځانله ځانله ولیدل.د ملاقات په وخت د پاک افغان پولې او امنیتي صورتحال خبرې اوشوې. دپېښور پېښې لړ کښې افغان متعلقه چارواکو سره مهم ثبوتونه شریک کړې شو. دغه دوران افغان ولسمشر باور

ورکړو چې د افغانستان خاوره به د پاکستان په ضد استعمال ته نه پرېږدو او دغه لړ کښې څه ثبوت ترلاسه شو نو مکمل کاروائي به کولې شي.

پوځي مشر افغان ولسمشر ته یقین ورکړو چې د ترهه ګرئ ضد کوششونو په ګډون به د افغانستان د شریک حکومت هره څنګه کښې مکمل مرسته کولې شي. د ایساف کمانډر هم د ترهه ګرئ ختمون لړ کښې د خپلې پوره پوره مرستې ژمنه وکړه

## د پاکستان افغانستان د سرکاري چارواکو ترمنځه دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره څوارلسم دوران شوي مهم ملاقاتونه

**ښاغلي جېمز ډوبنز د خارجه چارو د پاره د پاکستاني وزیراعظم د صلاحکار سرتاج عزیز سره ولیدل: دریم دسمبر دوه زره دیارلسم، اسلام آباد**

د افغانستان پاکستان دپاره د امریکا خصوصي استاذي ښاغلي جېمز ایف ډوبنز د خارجه چارو او قامي سلامتئ دپاره د وزیراعظم صلاحکار سرتاج عزیز سره د دسمبر په دریمه نېټه کال دوه زره دیارلسم اسلام آباد کښې ولیدل.دې دوران دوانړو چارواکو د پاکستان افغانستان ترمنځه په دوه اړخیزه تعلقاتو او د شریکو ګټو په چارو خبرې اوکړې. دې دوران د خارجه چارو سېکټر جلیل عباس جیلاني هم موجود وو.ښاغلي ډوبنز سره د امریکا سفیر ښاغلې رچرډ اولسن ملګرې وو.

ملاقات کښې د افغانستان مفاهمتي عمل، دوه زره څوارلسم او دهغې روستو په صورتحال هم غور اوشو.دې دوران د افغانستان مفاهمتي عمل نور تیزولو په ضرورت زور راوستې شو. مشیر خارجه د امریکا استاذي په وړاندې د ډرون بریدونه معامله کېښوه او وے وئېل دې سره د پاکستان او منطقې امن لړ کښې د پاکستان لخوا پورته کړې شوې اقداماتو ته زیان رسي او پکار ده چې امریکا

په خپله پالیسۍ نظر ثاني اوکړي.د پاکستان افغانستان دتعلقاتو په ذکر کولو مشیر خارجه زیاته کړه چې باید د دوانړو ملکونو ترمنځه د قانون نافذونکو ادارو ، ترهه ګرۍ د مخنیوي ، معیشت او اقتصاد په اړه د ورکنګ ګروپونو غونډې د وزیرانو په کچ ستراتجیکي مذاکراتو نه وړاندې اوشي کوم چې مارچ دوه زره څوارلسم کښې ټاکل شوېده اوشي.

**دویمه نقشه: د پاکستان افغانستان د سرکاري ملاقاتونو فهرست (دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره څوارلسم پورې)**

| شمیره | ملاقات | نېټه | ښار، ملک |
|---|---|---|---|
| I | ښاغلي جیمز ایف ډوبنز د خارجه چارو مشیر سره ملاقات | دریم دسمبر دوه زره دیارلسم | اسلام آباد ، پاکستان |
| II | افغانستان دپاره د ملګري ملتونو د ستر سکتر خصوصي استاذي ښاغلي جان کیوبز د خارجه چارو او قامي سلامتۍ دپاره دوزیراعظم د مشیر سره ملاقات وکړو | خلیرشتمه فروري دوه زره څوارلسم | اسلام آباد، پاکستان |
| III | د افغانستان پاکستان دپاره د امریکاخصوصي ډپټي پرنسپل نمائندې بېتهـ جونز د وزیراعظم د خصوصي مرستیال طارق فاطمي سره ملاقات | شپږویشتمه فروري دوه زره څوارلسم | اسلام آباد، پاکستان |
| IV | د افغانستان پاکستان دپاره د امریکاخصوصي استاذي د خارجه چارو او قامي سلامتۍ دپاره د وزیراعظم مشیر سرتاج عزیز سره ملاقات وکړو | خلیرشتم اپرېل دوه زره څوارلسم | اسلام آباد ، پاکستان |
| V | د ملګري ملتونو د ستر سکتر خصوصي مرستیال نمائنده نیکولس هېثم د خارجه چارو دپاره د وزیراعظم خصوصي مرستیال سید طارق فاطمي سره ولیدل | اوومه مئ دوه زره څوارلسم | اسلام آباد ،پاکستان |
| VI | د خارجه چارو د وزیراعظم | دري ویشتمه مئ دوه | اسلام آباد ، پاکستان |
| VII | خصوصي مرستیال طارق فاطمي د پاکستان افغانستان دپاره د امریکا د خصوصي استاذي د صلاحکار رابن رافېل سره ولیدل | زره څوارلسم | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| VIII | د افغانستان پاکستان دپاره د امریکاخصوصي استاذي جېمز ډوبنز د خارجه چارو او قامي سلامتۍ دپاره د وزیراعظم مشیرسره الوداعي ملاقات وکړو | یوویشتمه جولائي دوه زره څوارلسم | اسلام آباد ، پاکستان |
| IX | د افغانستان د پاره د چین خصوصي استاذي سن یوشي د خارجه چارو د سپکتر اعزاز احمد چوهدري سره ولیدل | شپږ ویشتمه جولائي دوه زره څوارلسم | اسلام آباد ، پاکستان |
| X | افغانستان دپاره د ملګري ملتونو د ستر سکتر خصوصي استاذي ښاغلي جان کیوبز د خارجه چارو او قامي سلامتۍ دپاره دوزیراعظم د مشیر سره ملاقات وکړو | اوویشتم اګست دوه زره څوارلسم | اسلام آباد ، پاکستان |
| XI | افغانستان دپاره د ملګري ملتونو د ستر سکتر خصوصي استاذي ښاغلي جان کیوبز د خارجه چارو د سپکتر اعزاز احمد چوهدري سره ولیدل | څلیرشتم ستمبر دوه زره څوارلسم | اسلام آباد ، پاکستان |
| XII | د پاکستان افغانستان د پاره د امریکا خصوصي استاذي ښاغلي ډېن فیلډمېن د خارجه چارو او قامي سلامتۍ دپاره د وزیراعظم د مشیر سره ملاقات وکړو | اته ویشتم اکتوبر دوه زره څوارلسم | اسلام آباد ، پاکستان |

**افغانستان دپاره د ملګري ملتونو د ستر سکتر خصوصي استاذي ښاغلي جان کیوبز د خارجه چارو او قامي سلامتۍ دپاره دوزیراعظم د مشیر سره ملاقات: څلیرشتمه فروري دوه زره څوارلسم**

افغانستان دپاره د ملګري ملتونو د ستر سکتر خصوصي استاذي ښاغلي جان کیوبز د خارجه چارو او قامي سلامتۍ دپاره دوزیراعظم د مشیر سرتاج عزیز سره په څلیرشتمه فرورۍ دوه زره څوارلسم کال اسلام آباد کښې ولیدل. دې دوران خارجه مشیرد یو پرامنه ، باثباته او متحد افغانستان

# د پاکستان افغانستان سرکاري مذاکرو رفتار او پرمختګ

دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره څوارلسم پورې

دپاره د پاکستان عزم تکرار کړو او ورسره ئې د افغان اولس د خواهشاتو مطابق دوه زره څوارلسم کښې افغانستان کښې د سېکورټې، سیاسي او اقتصادي بدلونو او د هغې روستو په صورتحال خبرې اوکړې.

خارجه مشیر د افغانستان استحکام کښې د نړیوالې روروليٰ سره د کلکو مرستو عزم هم په ډاګه کړو.نوموړي د افغان ولس په خوښه او د دوي دپاره د افغانستان د امن او جوړجاړي دپاره د مفاهمتي عمل لړ کښې د پاکستان د مرستو ګردان هم وکړو.ده د پاکستان افغانستان تعلقاتو کښې شوي پرمختګ په ډاګه کړو چې پکښې د دوانړو غاړو جګ پوړي چارواکو د یو بل د ملک دورې کړي، او د تعلقاتو نور ښه کولو دپاره ئې په تجارتي او اقتصادي اړیکو او سیمه ایزو مرستو زیاتولو په اېجنډه ټینګار وکړو.د افغانستان د مرستو د پاره د ملګري ملتونو د اداې UNAMA د کردار په ستائنه د مشیر خارجه وینا وه باید چې ملګري ملتونه او نړیواله روروليٰ د افغانستان اقتصادي ترقۍ او بیاوداني لړ کښې خپلې هلې ځلې نورې کلکې کړي. خارجه مشیر ټینګار وکړ چې نړیواله روروليٰ دې د پاکستان نه افغان کډوالو زر ترزره واپسۍ او افغانستان کښې د دوي بحالۍ دپاره سازګار حالات پیدا کړي.

ښاغلي جان کیوبز د افغانستان امن او استحکام او افغانستان سره د ښه تعلقاتو دپاره پورته کړې شوې اقداماتو لړ کښې د پاکستان د کردار ستائنه وکړه. ده د یونامه د واک لاندې د افغانستان د زېلي شوې څانګو د بحالۍ لړ کښې د ملګرو ملتونو لخوا پورته کړې شوي اقدامات هم په ګوته کړه.نوموړي روستو د پاکستان خارجه سېکټر ښاغلي اعزاز احمد چوهدري سره هم اولیدل او ورسره ئې د افغانستان، پاکستان افغانستان ترمنځه زیاتېدونکي مرستو او سیمه صورتحال خبرې اوکړې. خارجه سېکټر افغانستان دې سخت وخت نه راویستو او راتلونکي کلونو کښې د افغانستان د مرستې لړ کښې د ملګري ملتونو د کردار او پاکستان د مسلسل مرستو عزم په ډاګه کړو.

## د پاکستان افغانستان د پاره د امریکا خصوصي ډپټي پرنسپل سېکرټري بېتهـ جونز د وزیراعظم د خصوصي مرستیال سید طارق فاطمي سره ولیدل: شپږویشتمه فروري دوه زره څوارلسم

د پاکستان افغانستان د پاره د امریکا خصوصي ډپټي پرنسپل سېکرټري بېتهـ جونزد پاکستان خارجه وزارت ودانۍ کښې په شپږویشتمه فروري دوه زره څوارلسم کال د وزیراعظم د خصوصي مرستیال سید طارق فاطمي سره ولیدل.آغلې سره د پاکستاني چارو دپاره د امریکا ډائرېکټر جوناتهن پراټ او د سفارت چارواکي هم موجود وو. خصوصي مرستیال د هر قسمه ترهه ګرۍ او انتهاپسندۍ په ضد د پاکستان عزم په ډاګه کړو چې دا به خپل منطقي انجام ته رسولې شي.ده زیاته کړه چې د ټولو برخه ایزو او ملګرو سره په ګډه به مخ په وړاندې تلې شي. آغلې جونز د افغانستان امن او مفاهمتي عمل کښې د پاکستان کردار وستائلو. د دې سره سره د سیمې امنیت کښې هم د پاکستان د مثبت کردار ستائنه وکړۀ. خصوصي مرستیال خپلو خبرو کښې د پاکستان هغه عزم تکرار کړو چې د

# د پاکستان افغانستان سرکاري مذاکرو رفتار او پرمختګ

دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره څوارلسم پورې

افغانستان امن او استحکام کښې به خپل مثبت کردار جاري ساتي او ټولو ګاونډیانو سره به ښه تعلقات ساتي.دوانړو ډلود سټراټیجک مذاکرو په وزارتي کچ د څار نتیجو سره اتفاق وکړو کوم چې په اوویشتم او اته ویشتمه جنورئ دوه زره څوارلسم کال کښې واشنګټن کښې ترسره شوې وو اودا د دوانړو ملکونو ترمنځه په دوه اړخیزه او سیمه ایزو چارو کښې د مرستو اړخته اشاره کوي

## د قامي سلامتئ او خارجه چارو دپاره د وزیراعظم د صلاحاکار سرتاج عزیز سره د افغانستان پاکستان د پاره د امریکا دخصوصي استاذي جیمز ډوبنز ملاقات: څلیریشتم اپرېل دوه زره څوارلسم

دافغانستان پاکستان دپاره د امریکه خصوصي استاذي جیمز ایف ډوبنز په څلیرشتم اپریل دوه زره څوارلسم کال د خارجه چارو او قامي سلامتئ دپاره د وزیراعظم د مشیر سرتاج عزیز سره اسلام آباد کښې ملاقات وکړو. دملاقات دوران په دوه اړخیزه تعلقاتو اود سیمې په صورتحال خبرې اوشوې.

خارجه مشیر ووئیل پاکستان امریکا سره تعلقاتواو مرستو او د دې نورو مضبوطولو ته خاص اهمیت ورکوي. خارجه مشیر په دوه اړخیزه تعلقاتو کښې د ترهه ګرئ خلاف جنګ،اقتصاد، توانائئ او تعلیم لړ کښې د ستراتجیکي مذاکراتو کردار او اهمیت په ګوته کړو.

د ملاقات په وخت په سیمه ایزو چارو خاص کر د افغانستان په اړه معاملو کښې د پاکستان امریکي ترمنځه مشاورت په اهمیت هم رڼا واچولې شوه.خارجه مشیر د افغانستان امن، سلامتئ ،

استحکام او راتلونکي پرامنه ټولټاکنو او انتقال اقتدار لړ کښې د پاکستان د مسلسل کوششونو ګردان وکړو.ده زیاته کړه چې د افغانستان او ټولې منطقي د امن او استحکام دپاره افغانستان کښې په ښه شان د سېکورټئ او اقتصادي بدلون ضرورت دې. دې دوران د افغانستان په مفاهمتي عمل او دوه زره څوارلسم روستو په صورتحال هم غور اوشو. ملاقات کښې د خارجه چارو سېکتر اعزاز احمد چوهدري هم موجود وو. ښاغلي ډوبنز سره پاکستان کښې د امریکا سفیر ښاغلې رچرډ اولسن ملګرې وو.

## د افغانستان دپاره د ملګري ملتونو د ستر سېکتر خصوصي مرستال استاذي نېکولس هېئم د خارجه چارو د پاره د وزیراعظم د خصوصي مرستیال سید طارق فاطمي سره ولیدل: اوومه مئ دوه زره څوارلسم

د افغانستان دپاره د ملګري ملتونو د ستر سېکتر خصوصي مرستال استاذي نېکولس هېئم په اوومه مئ دوه زره څوارلسم کال د خارجه چارو د پاره د وزیراعظم د خصوصي مرستیال سید طارق فاطمي سره ولیدل. دې دوران د افغانستان په ګډون په سیمه ایز صورتحال او وړاندې ورځو کښې افغانستان کښې په شوې صدراتي ټاکنو خبرې اوشوې.

دوزیراعظم مرستیال افغانستان سره په مختلفو څانګو کښې تعلقاتو ته د ودې ورکولو

او ددې په اهمیت رڼا واچوله. د افغانستان کښې په پرامنه انتقال اقتدار کښې د پاکستان د مرستې ګردان وکړواو د افغانستان او ټولې منطقې د تل پاتې استحکام او امن دپاره په نړیواله رورلی ټینګار وکړو چې افغانستان کښې دې اقتصادي منصوبو ته دوام ورکړې.خصوصي مرستیال هیله څرګنده کړه ملګري ملتونه به د افغانستان امن، استحکام او پرمختګ لړ کښې خپل کردار جاري ساتي.

## د خارجه چارو د پاره د وزیراعظم خصوصي مرستیال سره د افغانستان پاکستان دپاره د امریکا خصوصي استاذې د صلاحکار رابن رافیل ملاقات: دري ویشتمه مئ دوه زره څوارلسم

د خارجه چارو د پاره د وزیراعظم خصوصي مرستیال سید طارق فاطمي او د افغانستان پاکستان دپاره د امریکا خصوصي استاذي سترصلاحکارې آغلې رابن رافیل په دري ویشتمه مئ دوه زره څوارلسم کال د پاکستان خارجه وزارت ودانۍ کښې ولیدل.ملاقات کښې د افغانستان په ګډون د سیمې او په دوه اړخیزه تعلقاتو خبرې اوشوې.دې دوران خارجه مرستیال د پاکستان امریکا

ترمنځه تعلقاتو کښې روان ښه والې په ګوته کړو کوم چې په خاص توګه د وزیراعظم نواز شریف پروسکال اکتوبر کښې د امریکا دورې روستو راغلي دې. دغه مهال د سټراټیجک ډائیلاګ ترلاندې د دوانړو ملکونو ترمنځه مرستو زیاتولو په مختلفو

چارو خبرې اوشوې. د افغانستان په تناظر کښې د دې خبرې سره اتفاق وشو چې دغه لړ کښې د دوانړو ملکونوکلکې مشورې او مرستې ډېرې ضروري دي. د دوه زره څوارلسم کال روستو په صورتحال هم خبرې اوشوې. خارجه مرستیال د افغانستان امن، سلامتۍ او استحکام کښې د پاکستان د کردار او مرستو اعاده وکړه.

## د پاکستان افغانستان سرکاري مذاکرو رفتار او پرمختګ

دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره څوارلسم پورې

### د خارجه او قامي سلامتۍ دپاره د وزیراعظم د صلاحکار سره د افغانستان پاکستان د پاره د امریکا د خصوصي استاذي جیمز ډوبنز ملاقات: یوویشتمه جولائي دوه زره څوارلسم

د افغانستان پاکستان د پاره د امریکا خصوصي استاذي جیمز ډوبنز په یوویشتمه

جولائۍ دوه زره څوارلسم د پاکستان الوداعي سفر وکړو او خارجه دفتر کښې د قامي سلامتۍ او خارجه چارو د پاره د وزیراعظم د صلاحکار سرتاج عزیز سره ولیدل. خبرو اترو کې د پاکستان امریکا په تعلقاتو او د افغانستان په پرمختګ غور وشو.په دې موقع خارجه مشیر ښاغلي ډوبنز ته د خصوصي استاذي په حیث امریکا سره د کوټلي،مضبوطو او تل پاتې اړیکو دپاره

پورته کړې شوې اقداماتو رڼا واچوله. دواړو غاړو په دې خبره اتفاق وکړو چې د دوه زره څوارلسم نه مخکښې او روستو د افغانستان او ټولې منطقې د امن، سلامتۍ او استحکام په رنګ شریکو ګټو ترلاسه کولو او ددې پځائې ساتلو دپاره به پاکستان امریکا تعلقات او مرستې نورې کوټلې او مضبوطې جوړولې شي. خارجه مشیر د تجارت،توانائۍ،اقتصاد، ترهه ګرۍ خلاف جهګړې، تعلیم ، سائنس او ټېکنالوجۍ په ګډون مختلفو څانګو کښې د مرستو لړ کښې دپاکستان امریکا ترمنځه د ستراتیجکي مذاکراتو په کردار هم رڼا وچوله.دواړو ډلود مذاکراتي عمل په څار تسلسل ښکار کړه کوم چې د تیر کال نه شورو شوېدې چې دې سره مختلفو څانګو کښې مرستو او افهام ته

هم وده رسي.خارجه مشیر د وسله والو په ضد پاکستاني پوځ لخوا په روانو هلو ځلو هم رڼا واچوله اووې وئېل د ضرب عضب په نوم پو ځي عملیاتو کښې دټولو وسله والو په ضد د څه قسمه تفریق یا خاطر نه بغېر یو شان کاروائي کولې شي.په سیمه ایز تناظر کښې د افغانستان په ذکر کولو خارجه مشیر ووئېل چې پاکستان به د پرامنه ، باثباته او متحد افغانستان لړ کښې خپله مرسته جاري ساتي.نوموړي د ټولټاکنو سره تړلې چارو لړ کښې د سکتړي جان کېري د کوششونو ستائنه وکړه. ده افغانستان کښې د پرامنه انتقال اقتدار لړ کښې هم د پاکستان د مرستو ذکر وکړو او وے وئېل چې دا د افغانستان او ټولو سیمې د امن او استحکام دپاره ډېر ضروري دي. ملاقات کښې د امریکا سفیر رچرډ اولسن او دپاکستان خارجه سېکتر اعزاز احمد چوهدري هم موجود وو.

### د افغان چارو دپاره د چین خصوصي استاذي د پاکستان خارجه سېکتر سره ملاقات: شپږویشتمه جولائي دوه زره څوارلسم

د افغانستان د پاره د چین خصوصي استاذي ښاغلي سُن یوژي په شپږویشتمه جولائۍ دوه زره څوارلسم کال دپاکستاني خارجه سېکتر اعزاز احمد چوهدري سره ولیدل.

خارجه سېکتر نوموړي ته د خصوصي استاذي چوکۍ ترلاسه کولو باندې امبارکي او دخپلې خوا د پورې مرستې باور ورکړو. د پراخه موضوع په خبرو اترو کښې خارجه سېکتر د پاکستان چین اودغه رنګ د افغانستان لړکښې د شریکو ګټو او لاس ته

راوړنو په معاملو غور وشو. دوانړو غاړو د پرامنه ، باثباته اومتحد افغانستان لړ کښې د خپلو مرستو او کوششونو ژمنه وکړه. دوي افغانستان کښې د اقتدار د تبدیلۍ په ګډون مختلفو بدلونو لړ کښې د نړیوالې مرستو په اهمیت هم زور راوړو.

د خارجه سېکتر وینا وه چې د بیاودانۍ او اقتصادي ترقۍ لړ کښې مرستې د افغانستان امن او استحکام دپاره ډېرې ضروري دي.نوموړي دترهه ګرۍ خلاف د پاکستان عزم تکرار کړو او دغه لړ کښې د ضرب عضب په ترس کښې د ټولو ترهه ګرو اود دوي د پټنځایونو په ضد کاروائي په ګوته کړه. د چین استاذي دې سلسله کښې پاکستان سره د یو والي څرګندونه وکړه او د ترهه ګرۍ خلاف د نړیوالې رورولۍ په مرسته کولو ئې د پاکستان ستائنه وکړه. د پاکستان خارجه سېکتر د سیمه ایزو مرستو د ودې لړ کښې د پاکستان مثبت کردار په ډاګه کړو. دغه تناظر کښې دوانړومشرانو د آسیا زړه \ استنبول پراسس ترلاندې په وزارتې غونډه اتفاق وکړو کومه چې ټاکلې شوېده تیاجن ، چین کښې وشي. پاکستان د دغه کنفرانس په کامیابۍ سره تابیا کولو کښې چین ته د خپلې خواه مرستې باور ورکړو.

## د افغانستان دپاره د ملګري ملتونو د ستر سېکتر خصوصي استاذي جان کیوبز د خارجه چارو او قامي سلامتۍ دپاره د وزیراعظم صلاحکار سره ولیدل: اوویشتم اګست دوه زره څوارلسم

د افغانستان دپاره د ملګري ملتونو د ستر سکتر خصوصي استاذي ښاغلي جان کېوبز په اوویشتم اګست دوه زره څوارلسم د پاکستان خارجه دفتر کښې د قامي سلامتۍ او خارجه چارو د پاره دوزیراعظم د صلاحکار سرتاج عزیز سره ولیدل.د ملاقات دوران SRSG صلاحکار ته د افغانستان ټولټاکنو او د حکومت بدلېدو لړ کښې دملګري ملتونو د کردار پحواله احوال تېر کړو. د خارجه چارو صلاحکار د پاکستان دریځ تکرار کړو چې پرامنه او مستحکم افغانستان د پاکستان په ګټو دی. د پاکستان لخوا د لاس وهنې نه کولو د پالیسۍ په ذکر کولو صلاحکار انتخابي عمل کښې د پاکستان مرسته په ګوته کړه او وے وئېل چې د راتلونکي دپاره د دوانړو صدارتي امیدوارانو ژمنو ته عملي جامه اغوستو لړ کښې به پاکستان خپل کردار جاري ساتي. د هیله څرګنده کړه چې د ټولټاکنو نتیجو سره به افغانستان نور هم مضبوط او متحد شي.

صلاحکار د افغانستان بیاودانۍ او اقتصادي ترقۍ لړ کښې په ملګري ملتونو او نړیوالې رورولۍ د مرستو ټینګار وکړو. خصوصي استاذي جان کیوبز د خارجه سکتر اعزاز احمد چوهدري سرهم ملاقات وکړواو ورسره ئې د افغانستان او سیمې په اړه دخیالاتو بدلون وکړو. خارجه سکتر د افغانستان او ټولې منطقې امن او سلامتۍ او اقتصادي ترقۍ لړ کښې د پاکستان د مرستو او ژمنو ګردان وکړو. ده په نړیوالې رورولۍ هم غږ اوکړو چې د پاکستان نه افغان کډوالو زر واپسۍ دپاره دې هلته حالات سمولو کښې خپل کردار ترسره کړي. دملاقات دوران د افغانستان تکنیکي مرستو او روزنو لړ کښې د ښاغلي جان کیوبز مشرۍ کښې د ملګر ملتونو لخوا شوې اقداماتو ستائنه وشوه.

## د پاکستان افغانستان سرکاري مذاکرو رفتار او پرمختګ

دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دسمبر دوه زره څوارلسم پورې

### د افغانستان دپاره د ملګري ملتونو د ستر سپکتر خصوصي استاذي جان کیوبز د خارجه سپکتر اعزاز احمد چوهدري سره ولیدل: څلیرشتم ستمبر دوه زره څوارلسم

د افغانستان دپاره د ملګري ملتونو د ستر سپکتر خصوصي استاذي جان کیوبزد ستمبر په څلیرشتمه نېټه دوه زره څوارلسم کال د پاکستان خارجه چارو سپکتر اعزاز احمد چوهدري سره ولیدل. دې دوران خارجه سپکتر د افغانستان امن او استحکام لړ کې د پاکستان عزم ګردان کړو. د ده په خبره پاکستان د نوي افغان حکومت په لوظنامه خوشحاله دې اودغه رنګ ئې نوي ټاکل شوي افغان ولسمشر اشرف غني ته امبارکي هم ورکړېده. د ده وینا چې پاکستان د نوي افغان حکومت ښه اړیکو ته سترګې په لار دې او هیله ده د دوانړو ملکونو ترمنځه به اعتماد زیات شي. ده د افغانستان د ترقئ لړ کښې د خصوصي استاذي د کار ستائنه وکړه کوم چې تېرو درې کالو کښې ترسره شوېدې. ښاغلي کیوبز خارجه سپکتر ته د افغانستان ټولټاکنو لړ کښې دملګري ملتونو د مرستو مشن (یوناما) د کردار په حواله خبروَنه ورکړه او هغه اقدامات ئې هم په ګوته کړه چې ورسره ددوانړو صدارتي امیدوارانو ترمنځه تاو تریخوالي کښې کمې راغلې وو.

د کیوبز په خبره د شریک حکومت جوړښت به د افغانستان استحکام اړخته مهم ګام وي.

### د افغانستان پاکستان دپاره د امریکا خصوصي استاذي ښاغلي ډان فېلډ مېن د خارجه چارو او قامي سلامتئ دپاره د وزیراعظم د صلاحکار سره ولیدل:اته ویشتم اکتوبر دوه زره څوارلسم

د افغانستان پاکستان د پاره د امریکا خصوصي استاذي ښاغلي ډان فېلډ مېن په اته ویشتم اکتوبر دوه زره څوارلسم د خارجه چارو او قامي سلامتئ دپاره د پاکستاني وزیراعظم صلاحکار سرتاج عزیز سره ولیدل.ملاقات کښې په دوه اړخیزه اړیکو، افغانستان کښې په روانو چارو،پاکستان افغانستان او هندوستان سره په تعلقاتو خصوصي غور اوشو.دغه مهال د افغانستان امن، استحکام، ترقئ او اتحاد لړکې د پاکستان د مرستو ژمنه تکرار شوه.

د خارجه چارو صلاحکار وینا وه پاکستان ژمن دې افغانستان سره د تعلقاتو یوې باب خلاص کړي. دې سره سره پاکستان د افغان ولس په خوښه مفاهمتي عمل کښې هم مثبت کردار ترسره کوي. خصوصي استاذي ته ووئیلې شو پاکستان افغانستان سره د امن اوسپکورټې،تجارت او اقتصاد، بیاودانئ او بحالئ په ګډون یو شمیر چارو باندې مذاکراتي عمل کښې بوخت دې. پاکستان هیله مند دې د افغان ولسمشر پاکستان دورې سره به دغې هلو ځلو ته وده ورسي.

ښاغلي ډان فېلډمېن د افغانستان امن استحکام او دتجارتي او اقتصادي چارو په ګډون مختلفو څانګو کښې د مرستو لړ کښې د پاکستان دکردار اقرار وکړو. د ده وینا وه دغه لړ کښې امریکا هر قسمه مرستې ته تیاره ده. د هندوستان سره تعلقاتو په اړه د نوموړي وینا چې دوانړو ملکونو زر ترزره مذاکراتي عمل بحالول پکار دي.

**درېیم اړخیزه غونډې:دسمبر دوه زره دیارلسم نه تر دوه زره څوارلسم دسمبر پورې**

**د پاکستان افغانستان او ترکي اتمه درېیم اړخیزه غونډه: دولسمه دیارلسمه فروري، دوه زره څوارلسم؛ انقره ، ترکي**

د افغانستان او ترکي اولسمشرانو او د پاکستان وزیراعظم ترمنځه دترکي ښار انقره کښې په دیارلسمه فروری دوه زره څوارلسم کښې اتمه درېیم اړخیزه غونډه وشوه.

د غونډې په موقع درې وانړو مشرانو په سیمه ایزصورتحال او سېکورټۍ په چارو ګټورې خبرې اوکړې په داسې حال کښې چې دآسیا زړه د یو ډېر مهم وخت نه تېرېږي چې سیمه کښې د امن او سېکورټۍ پحواله اهم پرمختګونه رامخې ته کېدونکي دي.

دغه دوران لارښودانو د افغانستان روان انتخابي عمل په ښه او پرامنه توګه کېدو په اهمیت رڼا وچوله او هلته ئې پرامن انتقال اقتدار د ټولي سیمې د امن او استحکام د چاپېریال دپاره ډېر ضروري اوبللو. دوي ټینګار وکړو چې باید نړیواله رورولي د افغانستان مفاهمتي عمل کښې خپل کردار جاري وساتي او ورسره ورسره دې د افغان ملي اردو صلاحیت سیوا کولو باندې پاملرنه وکړې شي. دوي د افغانستان سیاسي مسله د افغانستان د آئین د فریم ورک دننه حل کولو باندې هم زور راوړو چې داشان افغانستان کښې تل پاتې امن ته لار هواره شي، دوي په افغان طالبانو هم غږ وکړو چې امن عمل کښې شامل شي. د دوي د نزدې ګاونډي ملکونو په حېث پاکستان او افغانستان ترمنځه د نزدې مرستو په ضرورت رڼا واچوله او د امن او مفاهمتي عمل د کامیابۍ دپاره ئې په عملي اقداماتو ټینګار وکړو.

**څلور اړخیزه غونډې: دسمبر دوه زره دیارلسم نه دسمبر دوه زره څوارلسم پورې**

**د افغانستان ، ایران، پاکستان او تاجکستان د ولسمشرانو ترمنځه څلور اړخیزه غونډه: اوویشتم مارچ دوه زره څوارلسم، کابل ، افغانستان**

د افغانستان ، ایران،پاکستان او تاجکستان د ولسمشرانو ترمنځه څلور اړخیزه غونډه په اوویشتم مارچ دوه زره څوارلسم کابل، افغانستان کښې وشوه. د غونډې په وخت د پاکستان ولسمشر ممنون حسېن د سیمې د امنیت او سېکورټۍ سره په تړلې چارو د پاکستان نقطه نظر په ډاګه کړو او دغه لړ کښې ئې د سیمې ملکونو ترمنځه د تجارت، رابطو، توانائۍ او بنیادي ډهانچې لړ کښې د مرستو په ضرورت زور راوړو.

ولسمشر د افغانستان سیاسي ، سېکورټي او اقتصادي بدلون کښې د نېک خواهش اظهار هم وکړو. ده د افغانستان مفاهمتي عمل کښې د پاکستان کردار او مرستې ژمنه تکرار کړه او وے وئېل ''افغانستان کښې د پوخ امن او سلامتۍ یواځیني لار مذاکرات دي.''

څلور اړخیزه سرمشریزه کښې یوه شریکه اعلامیه جاري کړې شوه چې پکښې د سیمې په امن او استحکام، د ترهه ګرۍ خلاف مرستو، افغانستان کښې د پاکو صفا ټولټاکنو، مفاهمتي عمل ته وده ورکولو، د سیمه ایزو

ملکونو خپلو کښې مرستو، د سماجي او اقتصادي ترقۍ په ضرورت زور راوړې شو. اعلامیه کښې د پاکستان نه افغان کډوالو په وخت واپسۍ او دغه لړ کښې د نړیوالې رورولۍ د مسلسل مرستو په اهمیت هم ټینګار شوې.[24]

## د پاکستان، چین او افغانستان دویمه درې اړخیزه غونډه: نولسم اکتوبر دوه زره څوارلسم

د چین ، پاکستان او افغانستان ترمنځه درې اړخیزه غونډه نن اوشوه چې پکښې د سیمه ایزو مرستو،ترهه ګرۍ خلاف مبارزې او د سیمې د امن او استحکام د پاره خپلمنځي تعلقات او مرستې نورې پیاوړه کولو او دې دپاره د کړنلارې ټاکلو په ګډون یو شمېر ستراتجیکي چارو باندې خبرې اوشوې.

دوه ورځنې ټریک 1.5 مذاکره چې پکښې سرکاري خلقو او کارپوهانو ګډون لرلو پاکستان چین انسټي ټیوټ (PCI) او د جرمني ادارې کونرډ اېډنؤر سټفټنګ په ګډه تابیا کړې وو.

## د افغانستان په اړه لندن کنفرانس: څلورم پنځم دسمبر دوه زره څوارلسم، برطانیه

په څلورم پنځم دسمبر دوه زره څوارلسم کال لندن کښې د برطانئې او افغانستان لخوا په ګډه د افغانستان پحواله یوه غونډه وشوه چې پکښې د روان کال اخره پورې افغانستان نه د نړیوالو صلح ساتونکې ځواکونووتنې سرته رسېدو روستو یو کم شپېته ملکونود افغانستان

یو مضبوط او مستحکم هیواد جوړولو دپاره هر قسمه مرستو ژمنه وکړه.دستورې ته په خطاب کښې اولسمشر اشرف غني،د برطانیې وزیراعظم ډېوډ کېمرون، د پاکستان وزیراعظم نواز شریف، او د امریکا وزیرخارجه جان کېرې د افغانستان د ترقۍ منصوبه وړاندې کړه.

دې دوران خپلو خبرو کښې صدر اشرف غني د افغانستان ترقۍ دپاره پورته کړې شوې ګامونه په ډاګه کړه او زیاته ئې کړه چې د پرمخ تللي افغانستان دپاره به د اقتصادي ترقۍ په خاطر د کرپشن مخنیوي، سېکورټي ادارو کښې د شوې پیاوړتیا قائم ساتلو او زنانوؤ او معاشرتي حقونو ته د ملک په زړه کښې ځائې ورکول وي.

وزیراعظم نواز شریف د افغان ولس سره د پاکستان خواخوږي څرګنده کړه او په نړیواله رورولۍ ئې غږ وکړو چې د پرمخ تللي افغانستان د پاره دې د هغه ځائې مشروالۍ اقداماتو ته عملي جامه اغوستو دپاره نورې مرستې وکړي. د ده وېنا وه کابل او اسلام آباد د مستحکم، متحد پرمخ تللي افغانستان او شریکو ګټو ترلاسه کولو دپاره په شریکه کوششونه کوي.

## د پاکستان افغانستان نورې غونډې: دسمبر دوه زره دیارلسم نه دسمبر دوه زره څوارلسم پورې

## سنېټر افراسیاب خټک د افغانستان جمهور رئېس اشرف غني سره ولیدل: پنځلسم نومبر دوه زره څوارلسم

د افغانستان ولسمشر اشرف غني سره د

ملاقات روستو خپلو خبرو کښې سنېټر افراسیاب خټک (عوامي نشنل ګوند، خېبر پختونخوا) ووئېل ده د نوموړي په خبرو کښې د جنګ زپلي افغانستان د ترقۍ او پرامنه جوړولو ځار واضحه ولیدو. د اشرف غني د سیاسي بصیرت په ذکر کولو ښاغلي خټک ووئېل چې دا ټولې منطقې په خاص توګه دپاکستان افغانستان ترهه ګرۍ زپلي خلقو دپاره د خوشحالۍ زېرې دې. د عوامي نشنل ګوند د مشر اسفندیار ولي خان په حواله ووئېل چې دوي غواړي افغانستان پاکستان د ترهه ګرۍ خلاف شریکي هلې ځلې وکړي او هیله ده دې سره به دوانړه ملکونه په دې بلا قابو ومومي.

## د پیپلزګوند پلاوي د افغان ولسمشر سره ولیدل: پنځلسم نومبر دوه زره څوارلسم

د پیپلزګوند پنځه تني پلاوي سینټ کښې د مخالفې ډلې د مشر سنېټر اعتزاز احسن (پیپلز ګوند ، پنجاب) په مشرۍ کښې د پاکستان په دوره راغلي افغان ولسمشر اشرف غني سره د نومبر په پنځلسمه نېټه دوه زره څوارلسم کال اسلام آباد کښې ولیدل.نورو غړو کښې پخواني وفاقي وزیره او سفیره شیري رحمان،د پیپلز ګوند خېبرپختونخوا صدر خانزاده خان، پخواني ډپټي سپیکر فیصل کریم کنډي او سنېټر فرحت الله بابر (پیپلز ګوند ، خېبرپختونخوا) شامل وو.پلاوي افغان ولسمشر ته په ټولټاکنو او صدر جوړېدو امبارکي ورکړه او هغه ته ئې پاکستان ته په راتګ هر کلي ووے.

په دې موقع د سنېټر اعتزاز احسن هیله څرګنده کړه چې د نوي افغان مشروالۍ پاکستان سفر سره به دخپل منځي مرستو نوې لارې پرانستې شي او د دوانړو ملکونو ترمنځه موجوده بداعتمادي به ختمه شي. ده د خپل ګوند د مشر بلاول بهټو زرداري او پخواني اولسمشر آصف علي زرداري لخوا افغان ولسمشر او افغان ولس دپاره د نېکو خواهشاتو پېغام هم ور اورسولو.

ولسمشر سره خبرو کښې د پیپلز ګوند د غړو وینا وه چې د دوي ګوند غواړي د دوانړو ملکونو ترمنځه بداعتمادي ختمه شي او تجارتي او سېکورټي معاملاتو کښې د یو بل سره ښه تعلقات قائم کړي او باید چې د اقتصادي راهدارۍ جوړولو سره سوئېلي او مرکزي آسیا سره ارتباط کښې کړي.دوه زیاته کړه چې پیپلز ګوند به د افغانستان امن ، استحکام او قلاري دپاره پورته کړې شوې ګامونو حمایت کوي ځکه چې دې سره د پاکستان امن هم تړلې دې.




د پاکستان انسټي ټيوټ آف لېجسلېټېو ډوېلپمنټ اېنډ ټرانسپرنسي پلډاټ
اسلام آباد دفتر: پي او بکس ٢٧٨، ايف اېټ، پوسټل کوډ: ٤٤٢٢٠، اسلام آباد، پاکستان.
لاهور دفتر: پي او بکس ١١٠٩٨، اېل سي سي اېچ اېس، پوسټل کوډ: ٥٤٧٩٢، لاهور، پاکستان
اېمېل: info@pildat.org; وېبپاڼه : www.pildat.org